UNHCR ACNUR
Agência da ONU para Refugiados

MINISTÉRIO DA JUSTIÇA E SEGURANÇA PÚBLICA

GOVERNO FEDERAL
BRASIL
UNIÃO E RECONSTRUÇÃO



# په برازيل کی د پناه غوښتونکي په صفت د پیژندل شویو اشخاصو د پیژندنی پیژند پاڼه یا کارت وپیژنئ.

## په برازیل کې د کډوالی د پروسې مرحلې

۱. د کډوالۍ د وضعیت د پیژندلو غوښتنه ( د سیس کوناري له لارې او د فدرال پولیسو له لوري د آسنادو صادرول).

۲. د کډوالو د ملي کمیتی لخوا د مهاجرت د پروسی تحلیل- کوناري.

۳. د کوناري پریکړه.

۴. دمهاجرپه صفت پیژندل شوي اشخاص(دفدرال پولیسوله لوري ورته د کارت صادریدل) او د مهاجر په صفت د نه پیژندل شوي مهاجرین د بدیل یا د بلی پروسی پرمخ وړل.

## په برازیل کې د کډوال په توګه د پیژندل شوي کس د پیژندنی سند وپیژنئ

یوځل چې د کډوال په توګه وپیژندل شي، هغه شخص باید فدرال پولیسو ته لاړ شي ترڅو د مهاجرت د ثبت ملي کارت (CRNM) ورته صادر شي.

### سربیره پردې:

- عامه خدماتو ته د لاسرسي حقونه (روغتیا، تعلیم او ټولنیزی ګټې) یو شان عملي کیږي؛
- هغه څوک چې د کډوال په توګه پیژندل شوی وي د کار او ټولنیز امنیت کارت (CTPS) ته دایمي لاسرسئ لري؛
- هغوی د کورنۍ سره د بیا یوځای کیدو حق هم لري، د کورنی غړو ته د کډوالو د وضعیت حق تر ځلورمي درجې پورې پراخوي؛ د سفر سند یا ټراول ډاکمنټ هم اخستلئ شي ؛ او کولی شي د کډوالی د وضعیت پیژندلو لپاره د غوښتنی د نیټي څخه د ۴ کلونو وروسته د طابعیت د اخستو غوښتنه وکړي.

# توجه!

- د RNE او CRNM کارتونهملي د سفر سندونه دي چې ددی په واسطه تاسی کولای شئ چې د مارکو سول یا ملګرو هیوادونو ته سفر وکړئ خو که تاسی غوښتل چی نورو هیوادونو ته سفر وکړئ نو تاسی باید اعتباري پاسپورټ ولرئ او یا هم د پناه غوښتونکو لپاره د سفر پا سپورټ یا ټراول ډاکمنټ غوښتنه وکړئ، چی د مهاجرینو او پناه غوښتونکو لپاره صادریږي. خو که تاسی غوښتل چی د خپل هیواد د پاسپورټ په واسطه سفر وکړئ، د ۱۲ میاشتو نه زیاته موده یا هم خپل اصلي هیواد ته سفر کوئ نو باید د Conare څخه د سفر اجازه نامه تر لاسه کړئ.
- دسفر کولو په اړه د نورو معلوماتو لپاره د CG-Conare ویب سایټ (bit.ly/3ti7bzf) او یا هم د ملل متحد ویب پاڼی (bit.ly/3mxlenv) ته مراجعه وکړئ.
- د مهاجرت د ملي راجسټریشن کارتونو (CRNM) د ډولونو په اړه د ۲۰۲۰ کال د جنورئ د میاشتی د قانون ۱۱،۲۶۴ شمیره (bit.ly/3tp3ub4) څخه کتنه وکړئ.



## ۲. د ملي ثبت یا راجستریشن کارت (RNE)

د ثبت ملي کارت د خارجیانو لپاره چې RNE بلل کیږي د ۲۰۱۸ کال تر پایه پورې د پناه غوښتونکو او مهاجرینو لپاره صادر شوي دي چې پر ځای یې اوس د مهاجرینو او پناه غوښتونکو لپاره د مهاجرینو د ملي ثبت پاڼه یا CRNM صادریږي.

دا ماډل کارت د هغو خلکو لپاره صادر شوي چې د بهرڅخه راغلي اود پناه غوښتونکو یا مهاجر په صفت پیژندل شوي چې د پناه غوښتنې د قانون په ۶.۸۱۵ د ۱۹۸۰ (bit.ly/3IOI4Tv) چې د مهاجرت د قانون د ۱۳.۴۵، د ۲۰۱۷ (bit.ly/3Dmoj3A) کې ذکر شوي.

### د کارت مخ




**RNE:** د مهجرینو لپاره دِثبت کارت شمیره ده چې ۶ شمیرې لرې او یو عدد لري.

د پناه غوښتونکي شخص نوم او د هغه کورنۍ نوم.

د پناه غوښتونکي شخص د پلار نوم او د مور نوم.

**د اعتبار موده:** د کارت د صادریدو د تاریخ څخه تر ۹ کلونو پورې.

**د صادریدو تاریخ:** د پولیس فدرال له لوري د کارت د صادریدو تاریخ

### شت کارت




د پناه غوښتونکي شخص عکس ، د ګوتې نښه او لاسلیک.

**شاید قانوني حمایت ښکاره شي:**

- د قانون شمیره ۶۸۱۵ د ۱۹۸۰ چې د ۱۳.۴۴۵ د ۲۰۱۷ له لوري لغوه شوي د (مهاجرت قانون)
- قانون ۳۰، ۲ ماده ۱۳۴۴۵ د ۲۰۱۷ د مهاجرت قانون.(د پناه غوښتنې قنو)
- قانون شماره ۳۰، ۲ ماده ۱۳.۴۴۵، د ۲۰۱۷ چې هغه خلکو ته حق ورکوي چې د پناه غوښتنې څخه کټه پورته کوي.

## CRNM او RNE څه تو پیر لري؟

دکډوالولپاره دوه مختلف ډولونه وجود لري خو دا په دې پورې اړه لري چې کله صادر شوئ دي. که تر ۲۰۱۷ کال پورې صادر شوئ وي نو د بهرنیانو لپاره د ملي ثبت کارت یا (RNE) بلل کیږي او که د ۲۰۱۸ وروسته صادر شوئ وي نو بیا دا د مهاجرت ملي ثبت یا راجستر (CRNM) په نوم یادیږي.

په دې توګه، هغوی چې د RNE کارت لري اود اعتبار موده یې پای ته نه وي رسیدلي ضرور نده چې د بل کارت یا د نوي کولو غوښتنه وکړي تر هغه وخته چې د اعتبار موده ولري، که چیرې د اعتبار موده یې ختمیدوته نږدې وي نو دوی کولای شي چې د کارت د بیا نوي کولو لپاره وخت ونیسي او دوی به د CRNM کارت تر لاسه کړي.

# ۱. د مهاجرت ملي راجستریشن کارت (CRNM)

په پلاستیک ماده کی تولید شوئ، د مهاجرت ملي د ثبت کارت یا (CRNM) په تدریجي ډول د زاړه د بهرنیانو لپاره د ملي ثبت کارت (RNE) ځای نیسي چی دا بدلون د مهاجرت قانون د شمیری ۱۳،۴۴۵ د مئ د میاشتی ۲۴، ۲۰۱۷ څخه وروسته (bit.ly/3d2rxpw) تعریف کیږي چی اوسنئ ډول یی د ۲۴ د جنوری ۲۰۲۰ (bit.ly/3d2rxpw) د قانون مادی ۱۱،۲۶۴ له طریقه تعریف کیږي.

## د کارت مخ




**عکس:** د پناه غوښتونکي شخص عکس

**آران ام:** هغه اعداد یا کود دئ چی د غوښتونکي د مهاجرت د ملي راجستر یا ثبت آر ان ام سره مطابقت لري، که چیری یو شخص دي پي آر ان ام ولري نو د آر ان ام شمیره ورته ثابته پاتی کیږي.

**نوم:** د پناه غوښتونکي شخص نوم او کورنئ نوم کوم چی د تطبیق ړر وي او یا هم مستعار نوم

**ولدیت:** د پناه غوښتونکي شخص د پلار او مور نوم او کورنئ نوم

**د اعتبار موده:** د کارت د صادریدو له مودی نه تر ۹ کلونو پوری

## د کارت څټ




**سي پي اف:** د انفرادي مالیی ورکونکي شمیره

د کارت درلودونکي لپاره نا معلومه موده یا نا محدوده اوسیده موده

**دکارت د صدور تاریخ:** د پولیس فدرال له لوري د کارت د صدور نیټه

ددی کود په واسطه د کارت د اعتبار موده

**مدني یا تولنیز نوم:** کله که یو څوک تولنیز نوم ولري

**قانوني حق:** د قانون شمیره ۹.۴۷۴، ۱۹۹۷ د مهاجرت قانون ماده ۳۰، ۲ ، د قانون ماده ۱۳،۴۴۵ د ۲۰۱۷ کوم چی چی د هغه کسانو لپاره د استو ګنی اجازه ورکوي چی له پناه اخستو څخه کټه پورته کوي

## څنګه CRNM تر لاسه کړو؟

۱. هغه ټول آسناد را ټول او جمع کړئ چی تاسویی لرئ او د نورو معلوماتو او لا زمو آسنادو لپاره چی تاسی یی باید ولرئ د فدرال پولیسو ویب پاڼی ته مراجعه وکړئ bit.ly/3weGhDz.

۲. د CRNM د ترلاسه کولو لپاره قیمت وجود لري. که تاسی د پیسو ورکولو لپاره کومه سر چینه نلرئ نو تاسی کولای شئ چی وړیا یی تر لاسه او یواځی د اقتصادي ناکافي فارم ډک کړئ چی د MJSP شمیره ۲۱۸/۲۰۱۸ کی ذکر شوي ده.

که تاسی په دی اړه مرستی ته اړتیا لرئ نو د عامه مدافعی دفتر یا (DPU) ته مراجعه کولای شئ او یا هم د مدني سازمانونوڅخه مرسته وغواړئ. د نورو معلوماتو لپاره د UNHCR ویب پاڼی ته لاسرسئ ومومئ bit.ly/3qi5yib

۳. ددی ویب پا ڼی له لاری فورمه ډکه کړئ. (bit.ly/3u9ah0M).

۴. د پولیس فدرال په دفتر کی ملاقات یا وخت ونیسئ تر څو خپله د CRNM غوښته وسپارئ او یا یی هم تر لاسه کړئ.

**پاملرنه:** د CRNM کارت شاید سمدستي صادر نشي. د پولیس فدرال سره د کارت د صادریدو نیټه وګورئ.

UNHCR
ACNUR
Agência da ONU para Refugiados

MINISTÉRIO DA
JUSTIÇA E
SEGURANÇA PÚBLICA

GOVERNO FEDERAL
BRASIL
UNIÃO E RECONSTRUÇÃO

د پوښتنې او معلوماتو لپاره ددې ویب پاڼو څخه کتنه وکړئ.

UNHCR Help

CG-Conare